مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۴/۱۱/۰۸

# ودان ملت

هغه دوستان، چې د کابل په خیرخانه مېنه کې، زموږ د ارواښاد استاد اکادمیسین پوهاند رشاد کور ته تللي وي، نو له دغه لوی عالم سره د ناستي په خونه کې به یې خامخا د کتابونو د مخامخ الماری پر یوه څنډه، د استاد په ښکلي مشقي خط لیکل شوې د هیندوستان میشتي افغان ټولواک شېرشاه سوري دا جمله لیدلي وي: «پښتنو! قبیلویت پرېږدئ، قومیت جوړ کړئ!»

د استاد له قوله او د تاریخي سرچینو له روایته، سوري شېرشاه دا وینا خپل دربار ته د هغو ورتلونکیو پښتنو مشرانو لپاره کړې وه، چې هغه یې کوله پښتانه په کوشنیو کوشنیو خېلونو او ټبرونو، سیمو او جغرافیو سره وویشي او بیا دوی له دغه ویش څخه په کټه ځانونه پاچا ته ورنږدې کړي. مدبر شېرشاه، چې په هیندوستان کې د واک پر درېځ ښه پوهېده، له ورایه یې د پښتنو مشرانو د دې ټربورګلوی زیانونه پېژندل او د هماغه تاریخي موقعیت (ځانګړي زمان و مکان په قید) کې یې دوی ته داسي حکم کاوه، چې ټول ځانونه په یوه لوی واحد قوم پورې وتړي او یو پیاوړی قومیت جوړ کړي.

یوه ورځ مې – خدایزده د څه ډول یوه بحث په پایله کې - استاد ته وویل: که سوري شېرشاه اوس ژوندی وای او د افغانستان په ننني جغرافیا یې واک لرلای، نو خامخا به یې دا جمله داسي ویله: « افغانانو! قومیت پرېږدئ! ملت جوړ کړئ!» استاد په خپلې ځانګړې خوږې خندا زما دغه خبره تأیید کړه او ویې فرمایل: «د شېرشاه دا خبره د همدې فکر بنیاد دی.»

له سوري شېرشاه تر نن پورې دا پينځه پېرۍ د افغانانو ټولو مشرانو د ځينو ځانخوښيو له همدې ناولي عادت څخه سر ټکولی، له روښان بایزیده رانیولې، تر خوشال خټک ، باچا خان او نورو پورې یې د زړه وینې ورته خوړلې، چې په کور کې کورکي مه جوړوئ او په خپل وخپلخانو مه سره ویشل کېږئ، چې دوښمن به مو له دې ویش څخه ګټه واخلي او له زمکې به مو ورک کړي، خو هی ارمان چې خلک یې دا خبرې نه اوري.

ملتونه په لویو لیدلوریو جوړېږي:

## ځو دې وس رسي په لوی دریاب کې ګرځه
## په ویاله کې دې زوال وينم نهنګه

زموږ مشرانو موږ ته د ملت ( د لوی لرلید په مرسته د یوه لوی ملت) بنسټونه په میراث راپرېښي دي، خو هغه لړزانده دیوالونه چې پر دغو پخو بنسټونو درول شوي، موږ را روسته نسلونو تړي یوه یوه خښته ایستلې او د ملت ژوبل جسم مو لا پسي زخمي کړی دی. ځکه خو هرکله چې ځيني پردیپال وايي: « موږ ملت نه یو!» زما استدلال یې په وړاندي دا دی، چې نه! موږ ملت یو او د یوه پیاوړي ملت پر بنسټونو ولاړ هم یوو، هغه څه چې ستونزه ده، زموږ د راروسته نسلونو او نخبه‌ګانو نیمګړتیاوې دي، چې پردغو بنسټونو مو د یووالي مانۍ درولې نه ده.

دا دی، په داسي زمانه کې چې موږ د « ملت یو! » او « باید یو لوی ملت ودان کړو!» بحثونه کوو، څه احساساتي او ځانخوښي یا له ناخبرۍ او یا هم ښایي د څه مرموزو لمسوونو په پایله کې هڅه کوي ورونه سره تربرونه کړي او تربرونه په دوښمنو واړوي. که څه هم باور لرم، چې د افغانستان ټولنیز بافت او د خلکو ګډ ملي شعور به دغسي زهرجني احساساتي ناندرۍ په باد یوسي، خو زخمځای به یې خامخا د ملت ژوبل ژوبل وجود نور هم وخوږوي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

مورږ د «ملت» د ودانولو لپاره څلورګډ داسي بنسټونه لرو، چي ښايي ډېر مصنوعي او د ښکېلاک له ګېډي راز ېږېدلي هېوادونه يې ونه لري، ځکه خو يې لاتراوسه خپل تيت پرک ولسونه په يوه پياوړي ملت بدل کړي نه دي.
زمورږ دا څلور بنسټونه دا دي:

- ګډ فرهنګي هويت
- ګډ جغرافيايي هويت
- ګډ عقيدوي هويت
- د اوږدې مخيني لرونکی تولنيز بافت

۱- افغانستان د ګنو فرهنګي ارزښتونو، ژبو او دود دستورونو د رنګارنګو ګلونو داسي يو فرهنګي باغ خاوند هېواد دی، چي ټول يې د ګډ مالکيت حس لري، جزيات به يې بل وخت په يوه بېله ليکنه کي څرګند شي.

۲- مورږ ته زمورږ لويو تولواکمنو يوه لويه جغرافيا په ميراث پرېښي او په دې جغرافيا کي مو ګډ برخليک لرلای دی. په ۷۲۱ قمري/ ۱۳۲۱ميلادي کي سيف بن محمد بن يعقوب هروی (سيفي هروي) په خپل «تاريخنامۀ» هرات کتاب ۶۲۶ مخ کي د افغانستان حدود داسي تعريف کړي دي:

" له هرات څخه بيا د ټول افغانستان تر بريدونو او د آمو تر حد پوري ..."
د اوولسمي پېړۍ په پای کي ميرويس خان نيکه او ځاناستو يې له اغيارو څخه د دغي ملي جغرافيي د سپېڅلي وجود پاکول راپيل کړل، تر دې چي د اتلسمي پېړۍ په پيل کي سترټولواک احمدشاه بابا د دغي جغرافيي پر زړو هډونو د نوي افغانستان داسي واکمني جوړه کړه، چي دا دی تر نن پوري د اسيا په وجود کي د خوځند زړه حيثيت لري.

۳- د افغانستان خلک بشپړ اکثريت معتدل مسلمانان دي او زمورږ د ملت اعتقادي بنسټ يې پياوړی په ميراث راپرېښی دی. د افغانستان د حکومتونو عرفي جوړښت تل له دغه ګروهيز يووالي د ملي پيوستون لپاره ګټه پورته کړي ده، که څه هم انګريزي ښکېلاک تر نن پوري د نويو افراطي ډلو ټپلو، د مذهب ترنامه لاندي ښکېلاکي ويشونو، شخړو او فرقه‌يي ويشونو ته لاس واچاوه، په شدت سياسي شوي، بلکي استخباراتي شوي زهر يې د مذهب و دين په نامه راوشيندل او له خپلو سيمه‌ييزو سيالانو سره يې د افغانانو د جنګولو لپاره د دوی سپېڅلي عقيده د ويشلو او تقابل د ميتود پربنسټ کارول وغوښتل، معقوله اسلامي ګروهه وساتله او سياست يې خپل عرف ته پرېښود. ولس تل هڅه کوله چي سپېڅلي عقيده د سياستلوبو له ککړتيا څخه بېله او لرې وساتي.

۴- او بالاخره د ملت ودانولو څلورم بنسټ چي ښايي په نړۍ کي د لږو نېکمرغه ملتونو په برخه وي، هغه ټولنيز بافت دی. د افغانستان په جغرافيا کي له ډېرو لرې پرتو او په غرونو کي راګيرو سيمو پرته نور افغانانو دومره خپښی و خپلوی سره کړي دي، چي اوس په هره کورنۍ کي د افغانستان بېلابېل توکميز عناصر موندلای شئ. له مزار و بدخشان را نيولي تر پکتيا وکندهاره او له هرات رانيولي بيا ترننګرهار و لغمان پوري ګڼي کورنی سره ګډي شوي دي. لوی ښارونه او بيا ورځبرمه سيمي د دغه ګډون او مزج لوښي دي او افغانستان يې سره داسي ګنډلي چي نه په کي خالصه کندهاری کورنی پاتي ده و نه هم خالصه بدخشۍ يا هراتی و کونړی. مورږ ټول په حقيقت کي د يوې لويې (افغاني) کورنی غړي يو. دا هرڅه شعارونه او د ملي يووالي لپاره خوشبينانه خيالات نه دي، د دې ټولني واقعيتونه دي، که نه وي هريو دې خپله کورنی و خپلخانه وګوري، چي څومره ملي ګډون په کي دی.
دې څلورو بنسټونو ته په کتلو مورږ بېخي زيات امکانات لرو، چي يو لوی او پياوړی ملت ودان کړو.

زه نه‌غوارم هغو سادګانو ته د نصيحت په ژبه څه ووايم، چي دا ورځي يې د افغانانو اذهان او افکار د سيمي، ولايت، ژبي، لهجي، ليکدود، ملي شخصيتونو، ملي نښو، د تاريخي پېښو په سر د شخړو او نورو بېځايه ناندريو په وسيله نارامه کړي دي. بلکي هغوی ته د زړه‌سوي په لحن وايم، چي دا خوارۍ مو د ګونګتي ده او بېځايه مو ځانونه ستړي کړي دي. دا لوخي پوخي مو هېڅ ځای نه‌نيسي. هسي په لوی ملت کي ځانونه مه تجريدوئ. تاريخي پېښي و تاريخي څېري ان تاريخي وياړونه تاريخ ته پرېږدئ. له تاريخ څخه يوازې هويتي و تجربي تومنه اخيستلای شو، نور نو د نن و سبا د جوړولو زمانه ده. له لوی او بېخي لوی تاريخي افغانستان څخه مو متې راتاو کړئ! د يادو څلورو پياوړو بنسټونو پرسر د يوه پياوړي او سره متحد افغان ملت ښکلي ودانی رالوړه کړئ. د ودان ملت له ديوالونو خښتي مه‌باسئ، بلکي د ستر سوري شېرشاه ارمان را معاصر کړئ او داسي يې يو بل ته ووايئ، چي:

## «افغانانو! قوميت پرېږدئ! ملت جوړ کړئ!»


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مورږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ